SHARIAT

شریعت

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

پنځم کال اته پنځوسمه ګڼه پرله پسې (۳۴۵) سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال دجمادي الاول (۱۵) د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمياشتې(۲۵) د ۲۰۰۰ميلادي کال د اګست (۱۵)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عـــدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید.

توسط طیاره د آریانا افغان هوایي شرکت :

(۹۳) طفل معیوب به کشور آلمان منتقل میگردد

کابل - باختر :

قرار است ۹۳ طفل مریض که توسط نماینده ګي دهکده صلح کشور المان در افغانستان ثبت نام شده است توسط طیاره د آریانا افغان هوایي شرکت غرض تداوي به دهکده صلح آلمان منتقل گردد .

دهکده صلح کشور المان در افغانستان به همکاري جمعیت عالي افغاني سره میاشت اطفال مریض و معیوب را که در اثر جنگ ها صدمه دیده اند تشخیص و غرض تداوي اساسي به دهکده صلح آلمان منتقل مینماید که این پروگرام در سال دو بار توسط طیارات آریانا انجام میپذیرد.

به اساس وضع تعزیرات غیر منصفانه شوراي امنیت سازمان ملل متحد در پروسه انتقال اطفال مریض و معیوب نیز سکتگي رونما گردید که به اساس سعي و تلاش مراجع دیپلوماتیك اجازه پرواز طیاره د آریانا افغان هوایي شرکت غرض انتقال اطفال معیوب به دهکده ص ٤

د بهرنیو چارو محترم وزیر د یوه مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی وویل :

اسلامی امارت د جګړې پلوې ندی

باید ملګری ملتـــونه بی له کــوم توپـــیره د نړی د اســکیرلو په وړاندی خپل مسؤلیت تر سره کړی

ایران باید د افغاني مهاجرینو د مشکلاتو په پام کـــی نیولو ســره د هغوی په اړه تصمیم ونیسی

موږ د ملـــګرو ملتونو د هغـــو هڅو چی زمـــوږ د اســـلامی مقرراتو خـــلاف نه دی هر کـــلی کـــوو

د نورو په چارو کی د نه لاس وهنی سیاست د ا.ا.ا د ملی او بین المللی دندو په سر کـــی ځـــای لری

کابل - باختر :

د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل پرون له غرمی مخکی د یو مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی څرګنده کړه چی اسلامی امارت هیڅکله د جګړی پلوی ندی او باید مخالفین د خلکو او ټولنی د لوړو ګټو په خاطر له جګړی څخه لاس واخلی

په دی مطبوعاتی کنفرانس کی چی د کورنیو او بهرنیو خبریالانو په ګډون د بهرنیو چارو وزارت د کنفرانسونو په تالار کی جوړ شوی وه لومړی د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل په هیواد کی د شل کلنی جګړی او د هغی د دوام ناوړه پایلو او نتیجو ته په اشاری سره د اسلامی امارت له مخالفینو څخه وغوښتل چی له ناروا او کورګډی جګړی څخه زموږ د خلکو او اسلامی ټولنی د لوړو ګټو په خاطر لاس واخلی ځکه په هیواد ٤ مخ

در شهر گردیز:

یکمقدار چرس حریق و از بین برده شد

گردیز - باختر :

یکمقدار چرس دیروز در چوك مرکزي شهر گردیز حریق و از بین برده شد.

دونیم کیلو گرام چرس خام که اخیراً توسط موظفین ریاست امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولایت پکتیا از مربوطات شهر گردیز بدست امده بود دیروز در محضر عام در چوك مرکزي شهر گردیز حریق و از بین برده شد.

محترم قاضي القضات ا.ا.ا :

مستکبرین جهاني نمیتوانند استقرار نظام اسلامي را در افغانستان تحمل نمایند

شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد «ثاقب» قاضي القضات و رئیس ستره محکمه امارت اسلامي ص ٤

حفظ ابدات تاریخی جز وظایف مهم ما میباشد

محترم عبدالجبار عمري والي ولایت بغلان

محترم ملا عبدالجبار عمري والي بغلان دیروز درحالکیه محترم ملا عبدالاحد مجروح رئیس اطلاعات و کلتور آنولایت و عده از مسوولین ادارات امارتي آنولایت نیز با ایشان همراه بود از آبده تاریخي سرخ ص ٤

طي مراسم خاصي :

سفیر کبیر جمهوري اسلامي پاکستان اعتماد نامه اش را به محترم رئیس الوزراء تقدیم نمود

کابل - باختر :

سفیر کبیر جمهوري اسلامي پاکستان در کابل قبل از ظهر دیروز طي مراسم خاصي اعتماد نامه اش را به محترم ملا محمد رباني رئیس الوزراء در قصر گلخانه تقدیم نمود.

محترم عارف ایوب سفیر جدید جمهوري اسلامي پاکستان بعد از تقدیم اعتماد نامه مراتب ص ٤

کابل ښاروال محترم ملا سعد الدین «سعید» له «شریعت» سره په مرکه کی :

د کابل ښاروالی اړوند تخریب شوی وسایل مو ترمیم او په کار اچولی دی

د ښار د صـــفایی لپاره مو ۱۲ عرادی کثافت وړونکی موټر خریداری کـــړی دی

شـــریعت : قـــدرمنو لوستونکوا زمونږ خبریال له بیلا بیلو امارتی ادارو نه د رپوټونو د برابرولو په ترڅ کی دا ځل کابل ښاروالی ته سر ورښکاره کـــړی او له کـــابل ښاروال محترم ملا سعدالدین «سعید» نه یی د کابل ۲ مخ

په کابل کی د امنیتی موظفینو له خوا :

یو تن غـــل ونیـــــول شـــو

کابل - باختر :

یو تن غل پرون د کابل ښار په مربوطاتو کی د نهمی امنیتی حوزی د موظفینو لخوا لاس په لاس ٤ مخ

دغور او کابل د ولایتونو تر منځ مخابروی ارتباط تامین شو

د غور او کابل د ولایتونو او د هیواد د نورو ولایتونو تر منځ مخابروی ارتباط له یوه اوږده ځنډ نه وروسته بیا تامین شو. ٤ مخ

یوه قـــوی بم د تل ابیب ښار ولړزاوه

د یوه قوی بم چاودنی تیره شپه د اســرائیلو ښار تل ابیب ولړزاوه د خبری سرچینو د خبر له مخی د دغه بم د چاودنی له امله نژدی و دانیــو ته دیر مالی تاوانونه اوښتی .

د دغی چـــاودنی مـــواد تر یوی نقلیه وســـیلی لاندی ایښودل شوی وه .

د اســـرائیلو پوځیـــانو د دغی چاودنی د عامل یا عاملینو د موندلو لپاره پراخ لټون پیل کړیدی. ٤مخ

محترم ملا نور احمد هجران «ناصري» رئیس سره میاشت ولایت هرات در مصاحبه با «شریعت» :

در ربع اول سال جاري براي ۱۵۰ فامیل مستحق مواد اولیه خوراکي توزیع گردیده است

شریعت : خوانندگان عزیز ! خبرنگار ما به سلسله تهیه گزارشات خویش از گوشه و کنار کشور ابنبار بولایت باستاني هرات سفر نموده و حین اقامت خویش در شهر زیبا و تاریخي هرات سري برياست ص ٤

عنقریب جریان برق و سیستم آبرساني فـــامیلي هاي قرغه کـــابل تأمین میگردد

شریعت : با تمدید لین پانزده کیلو ولت از سب ستیشن شمال کابل جریان برق وسیستم آبرساني فامیلي هاي قرغه شهر کابل بعد از هفت سال وقفه عنقریب به کمك مستقیم موسسه خیریه اطفال جنگ زده که در مساعدت افغانهاي مهاجر مقیم ایالات متحده امریکا و کشور کانادا تمویل میشود تأمین میگردد. ص ٤

شمار قربانیان بم منفجر شده در مسکو به ۱۲ نفر بالغ کردید

رقم تلفات انفجار بم که اخیراً در مسکو پایتخت روسیه رخ داد به دوازده نفر افزایش یافت .

طبق گزارش آژانس هاي خبري روسیه یك زن بیست و پنج ساله که در آن انفجار جراحت بسیار شدید برداشته بود شب گذشته در ص ٤

په پکتیـا کی :

یوه ډله تښـــتوونکی ونـــیول شـــول

کابل - باختر :

د پکتیا په ولایت کی یوه ډله تښتوونکی ونیول شول. ٤ مخ

سنتاتور جان لیبرمن :

صنعت فلم سازی امریکا را مورد انتقاد قرار داد

سناتور لیبرمن که برای احراز کرسی معاونیت ریاست جمهوری ایالات متحده امریکا کاندید شده است دیروز صنعت فلم سازی آنکشور را مورد انتقاد شدید قرار داد .

قرار گزارشهای منابع خبر رسانی بین المللی سناتور جان لیبرمن گفت : که صنعت فلم سازی هولیود فرهنگ آنشکور را فاسد ساخته و اطفال را به سوی فساد سوق میدهد .

نامبرده در جریان کنوانسیون ملی حزب دیموکرات در شهر لاس انجلس این اظهارات را انجام داد . ٤مخ

منظره زیبایي از مسجد پخته فروشي کابل که در این اواخر به اثر سعي و تلاشهاي پیگیر امارت اسلامي مجدداً ترمیم و اعمار گردیده است. عکاسی یوسف

دلوی خدای (ج) په نامه

سرمقاله

په منځنی آسیا کی ناکراری ولی مخ په زیاتیدو ده ؟

په افغانستان کی د روسانو د شرمیدلی ماتی او د شوروی اتحاد د لوی امپراتوری د ړنګیدلو حتمی او طبیعی اغیزی خامخا همدا وی چی د منځنی اسیا اسلامی ملتونه به چی له اتیا کلو راهیسی د روسی ظلم او وحشت منګولو کی پر سر ګرځیدل، را پاڅیږی او د مریتوب هغه کړی به له غاړی لری غورځوی چی د دوی د دین او مذهب، کلتور او ثقافت، تاریخ او اقتصاد یی ټول ور څخه تر وړلی او په یو جامد او بی واکه عنصر یی بدل کړی وو، دوی ته د خپلو هغو حاکمانو ماهیت هم ښه څرګند و چی د کریملین له خوا یی پر سر تپل شوی او شپه ورځ یی د خپلو ولسونو په کړولو او ۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :۶۲۸۵۹
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

ځورولو د روسانو خوشحالي او سوکالي غوښته، له همدې کبله د شوروي اتحاد د نړیدلو له ړومبي ورځې نه را په دې خوا د منځنی اسیا ټول مسلمانان په دې هیله او هلو ځلو کې دي چې کله به د خپل تیر اسلامي برم په شان یو ځل بیا یو نوی تاریخ جوړوي او د خپلو دیني او ملي غوښتنو سره سم به د روسانو له لاس وهنې پرته ځان ته یو خپلواک نظام جوړوي خو دا چې روسان هم ددې کار په عواقبو ښه پوهیږي په خپل ټول وس او وسایلو هڅه کوي چې خپل هماغه پخواني اندیوالان په دغه سیمه کی واکمن وساتي او په دې ډول له نوموړې سیمې څخه د خپلو اقتصادي اړتیاوو پوره کولو ته دوام ورکړي. خو څنګه چې روسي پلوی مشران د خپلو خلکو ملاتړ نه لري او د یوې معمولي وسله والي نښتی او واړه پاڅون له پیښیدلو هم خپل مرګ حتمي بولي او روسانو هم د دوی دغه کمزوري پیژندلی نو تل یې هسې په وهمي خطرونو سره ویروي او همیشه دا خبري ورته تکراروي چې سیمې ته دافغانستان له خوا شدید ګواښونه متوجه دي او یا دومره کسان په افغانستان کی د جنګی روزنی لاندې دي او دومره نور را رسیدلی دي. دا ډول نښتی او وسله وال اخ و ډب به خامخا هلته پیښ شوي وي او لا پیښیږي به ، ځکه چې د مسلطو رژیمونو له خوا پر خلکو سخته دیکتاتوری چلیږي او د خپل ولس د رواغو ښتنو ، دیني او ملي اړتیاوو او سیاسي آزادۍ ته یې سترګی پټې شوي او تر سخت دباو لاندې راوستل شوي دي نو په داسی حال کی به خامخا یو ملت څه مزاحمت او غورځې پرځې کوي او دا یوه طبیعي او مسلمه خبره ده، خو په دې هکله بې ځایه او ناسمه خبره دا ده چې ټول په یوه خوله د خپلو دغو کورنیو ستونزو پړه په افغانانو وراچوي او تل د افغانستان اسلامي امارت په دې ګومان چې سیمی ته یې لاسونه راغځولي او د دوی امنیت یې خراب کړې دي په وروستیو څو ورځو کی چې ځینې وسله والو ګروپونو په ازبکستان او قرغزستان کی له حاکمو ځواکونو سره کومې نښتی کړي او دوی یې سخت وارخطا کړي، ددغو نښتو مسؤلیت د ازبکستان اسلامي تحریک ته متوجه دي ، چې له مونږ سره هیڅ ډول تړاو نه لري خو بیا هم د سیمې چارواکي په دې هکله اسلامي امارت ته ګوته نیسي ښایي دوی به په دې ډول له خپلو هغو لاس وهنو د نړۍ والو پام بلې خواته اړوي چې په افغانستان کی یې تر سره کوي او په څرګنده یې د ټولو جنګی وسایلو ، لوژستیکی موادو او نورو نظامي اړتیاوو د برابرولو سره سره د کولاب هوایي اډه هم زمونږ مخالفینو ته پیله کړي او د خپلو تبلیغاتي وسایلو له لارې یې په اسلامي امارت پسې پوچ او ناروا پروپاګند شروع کړی دی.

په هر صورت، مونږ د منځنی آسیا په دغو تحولاتو کی په هیڅ ډول شریک نه یو، زمونږ خاوره د هیچا پر خلاف نه استعمالیږي او نه دلته د چا څه سیاسي او نظامي مرکز ونه شته · دافغانستان اسلامي امارت همیشه په دې خبره ټینګار کړی چې مونږ د بل چا په کورنیو معاملو کی د لاس وهنې اراده نه لرو او دا خبره مو ان لا هغه وخت په ډاګه اعلان کړې وه چې کله د دوی له خوا ازبک مشر «جمعه خان نمنګانی» د افغانستان خواته را وشړل شو ، مونږ هماغه مهال د نوموړي د راشړلو سره خپل مخالفت وښود او څرګنده مو کړه چې بیا به خامخا افغانستان د دوی د نظامي اډو او روزنیزو کمپونو په تور تورېږي. اوس یو ځل بیا په صراحت سره د خپل پخواني دریځ پخلی کوو چې مونږ د ګاونډیو هیوادو په چارو کی د لاس وهنې هیڅ خیال نه لرو، بلکې په کلکه د ښو اړیکو دوستی او لوریني غوښتونکی یو او له ګاونډیو هیوادو څخه هم هیله من یو چې د اسلامي ورورولۍ له اصولو سره سم مونږ سره د اړیکو د سمولو په لور هڅه وکړي.

ولی خپل اختلافات د خدای په کتاب نه حل کوو؟

لوی خدای عزوجل په خپل مقدس کتاب قرآن مجید کی همدغو مسلمانانو ته فرمایلی دی . ژباړه : « که چیری مو په څه کار کی اختلاف وکړ نو د خدای او رسول حکم ته یې وسپارئ» دا د اسلامی شریعت یوه څرګنده فیصله ده او هر څوک چی ځان ته مسلمان وایی او د اسلام دعوا کوی باید دی فیصلی ته غاړه کیږي اختلاف یوه طبیعي خبره ده او حتماً به د ټولنیز ژوندانه په یوه اړخ کی د وګړو تر منځ راپیښیږي ، خو مهمه یې دا ده چی بیا به نو هغه جنجال په کوم قانون او کوم معیار سره حل کیږي، الله تعالیٰ د حل همدغه مرجع مسلمانانو ته ورښیی او تاکید کوی چی خپلی ستونزی او منازعی د خدای د قانون په رڼا کی حل کړي .

د مسلمانانو د خپل منځی اختلاف له جملی نه زمونږ د ګران هیواد روانی کشالی هم یو تریخ حقیقت دی چی له بده مرغه د اسلامی امات په تاریخ کی به په تورو کرښو ولیکل شی که څه هم په دی لانجه کی د یهود، هنود او نصرانیت کرغیړن لاسونه په ډاګه کار کوی خو بیا هم اصلی مسؤلیت او مخ توری له ټولو زیات د هغو مسلمانانو دی چی اوس د اختلاف په سر کی روان او ځان ته پوهان، علما او پروفیسران وایی او د قرآن، حدیث او فقهی پوره

فاروق

معلومات لری خدای پاک دی زمونږ ایمان ته خیر پیښ کړي، زه نور نه پوهیږم ، په دی خبره به هم همدغه پوهان ښه پوهیږي چی آیا یو مسلمان ته به دا خبره څه جواز لری چی د خپلو اختلافاتو حل د صلیبیانو په قضا او محکمه کی لټوی ؟

نه پوهیږم دا خبره به د چاله خوا په اوسنیو مسلمانانو کی رواج شوی وی چی «ملګری ملتونه دی زمونږ د ستونزی یو مناسب حل ولټوی» په هر صورت دا خو هر چاته معلومه ده چی سپی خبره نه ده، او د ایمان له غوښتنو سره لوی ټکر لری، اوس پوښتنه دا ده چی په اسلامی شریعت کی د اختلاف پریدونه کوم دی او د یو نظام په مقابل کی څه وخت مسلح قیام جواز لری ؟

ددی خبری د ښه وضاحت لپاره مخکی تر مخکی دا لاندی څو حقایق په نظر کی نیول په کار دی، چی د استاد سیاف، استاد ربانی، حضرت صاحب صبغت الله مجددی او نورو پوهانو او علماو پاملرنه ورته را ګرځوو ، او هغه دا دی :

۱- آیا د افغانستان د اسلامی امارت قیام د هیواد د جیدو او نامتو علماو د یو کافی شمیر په حضور کی تایید او منظور نه شو ؟ هومره علما چی په هغو شرایطو کی

تر هغو د زیاتو راټولیدل تقریباً ممکن نه وو او بیا په غیاب کی هم د هیواد د مطلق اکثریت علماو له خوا تایید نه شو ؟

۲- آیا اسلامی امارت په اقامت صلوة، جمعه، عیدین، امر بالمعروف او نهی عن المنکر، اقامت حدود او قصاص، د عشر او زکات په راټولولو او نورو اسلامی احکامو په تطبیق کی څه سستی کړی او نافذ کړی یې نه دی ؟

۳- آیا اسلامی امارت د هیواد په ۹۰٪ برخه تسلط او کنټرول نه لری او امنیت یې نه دی راوستلی ؟

٤- آیا د اسلامی امارت مطلق اکثریت مشران او مسؤلین د اهل السنت والجماعت پیروان او علماء نه دی ؟

د پورتنیو څلور واړو پوښتنو ځوابونه حقیقتاً مثبت دی او که قضاوت عادلانه او د تعصب تباری په ذهن نه وی پرتی هیڅوک هم تری انکار نه شی کولای، پاتی شوه دا خبره چی که فرضاً په ځینو مواردو کی بی ځایه تشدد پیښ شوی وی او څوک په ناحقه کوم سوک څاپیړه لګیدلی وی، یا په جنګ کی چاته څه زیات تاوان رسیدلی او ځوریدلی وی، یا چا څه رشوت خوړلی وی، او یا په کوم ځای کی غله پریوتلی او شوکماری شوی وی نو دا خو زمونږ د ټولنی نیمګړتیاوی دی او مونږ هم د صحابه کرامو د دوری دعوا نه ده کړی، مونږ تر خپلی وسی کوشش کوو چی په ښه ډول شریعت تطبیق او د هیواد والو خدمت وکړو، اوس اساسی پوښتنه دا ده چی تاسو هم خپل کتابونه راواخلی، خدای ته مخ او مخلوق ته شا کړی او د خپل ګریوان سره دا فیصله وکړی چی ایا د یو دغه شان نظام په خلاف به مسلح قیام روا وی او که نا روا او بغاوت؟ !

له بلی خوا په دی هم ښه پوهیږی چی ستاسو د اختلاف نه یهود، هنود او نصاری ګټه اخلی او لګیایی د هغوی ناروا اهداف تر سره کوی.

راځئ له اختلافه تیر شی، او د همدی موجوده نظام د لا پرمختګ او پیاوړتیا لپاره کار وکړی ، دښمنان مه خوشالوئ راځی په ګډه د همدی امارت د ټینګښت هڅی وکړو ، پردی لاسونه غوځ او ځان د سیالانو سره سیال کړو، آیا د کفارو دا شپه او ورځ ګواښونه او دا ناړامه او ناروا خبری ستاسو په زړوکی څه جذبی او ولولی نه راپاروی چی د هغوی له ضده له خپل ټول ځانی هوا هوس نه تیر او د خپل اسلامی امارت سره په رښتینولی او صداقت ملګرتیا شروع کړی ؟!!

دکابل ښاروالی اړوند تخریب شوي وسایل مو ترمیم او په ...

ښاروالي د کار او فعالیت د څرنګوالي او راتلونکو پلانونو په اړه معلومات غوښتی چی دا دی ستاسی د مطالعی لپاره یې خپروو .

په پیل کی کابل ښاروال محترم ملا سعدالدین «سعید» داسی وویل : د کابل ښار د کورنیو او باندنیو مجربو انجنیرانو او مهندسانو له خوا طرح او ډیزاین شوی او په اوس وخت کی د دوه ملیونو تنو اوسیدونکو ظرفیت لری دغه راز د کابل ښاروالی د مهندسی او پلان جوړولو لوی ریاست له خپل کاری پلان سره سم هر کال یو شمیر پروژی طرح او ډیزاین کوی چی په دی لړ کی یې تیر کال هم د څرخی پله په نو آباد او رحمان مینه کی یو شمیر پروژی طرح او ډیزاین کړی دی البته ددا ډول پروژو او په ځانګړی ډول د سرکونو او نورو ټولګټو تأسیساتو د جوړولو لپاره زیاتو مالی امکاناتو ته اړتیا لیدل کیږي.

دیادونی وړ ده چی په روان کال کی د رحمن مینی د هستوګنی پروژه، د خوشحال خان مینی پروژه او د تایمنیو د پروژی تخنیکی پلان تر لاس لاندی نیولي دی.

دی زیاتوی : هغه ښاری تفصیلی پلانونه چی د کابل ښار له ماستر پلان سره سم طرح شوی په هغو کی یو لړ ورکشاپونه هم په پام کی نیول شوی زمونږ ګران هیواد وال او امارتی موسسی کولای شی چی د اداری پړاوونو تر بشپړولو وروسته یې په عملی چارو لاس پورې کړی دغه راز د کابل ښاروالی په کاری پلان کی له پل باغ عمومی نه تر پل خشتی پوری د سیند د دواړو غاړو د ساتندویه د یوالونو جوړول ، د ښار د پیاده روونو جوړول، د آریانا له څلور لاری نه د حاجی یعقوب تر څلور لاری او د زیرزمینی له څلور لاری نه د زمبق تر څلور لاری پوری د ویالو جوړول او دغه راز د زرنګار پارک د کتارو

او د نوموړی پارک ښکلا او داسی نورو پروژو جوړول په پام کی نیول شوی اوپه مناسب وخت کی بهٔ کار پری پیل شی.

ده زیاته کړه : هغه سرکونه، ودانی، ویالی او تفریح ځایونه چی پخوا د بیلا بیلو عواملو له کبله لړ یا ډیر وران ویجاړ شوی د کابل ښاروالی د عادی بودجی په مرسته له سره جوړیږی . ښه بیلګه یې دسرکونو جوړول او داغګیری ده چی همدا اوس هم د قوای مرکز روغتون ته څیرمه سرک باندی کار روان دی . هغه تخنیکی وسایل او وسایط چی د عوارضو له کبله له کاره لویدلی وه اوس مو هغه بیا فعال کړی او ښی نمونی یې دریګریشن د تولید او بخار ماشینونه دی. همدارنګه یو شمیر نوی ماشینونه مو له بهر نه هم تر لاسه کړی چی د اسفلت جوړولو ماشین او د قیر اوربګ د ګډولو ماشینونه چی اوس د کابل ښاروالی د ساختمانی تصدی په اختیار کی دی.

په پای کی کابل ښاروال محترم ملا سعد الدین «سعید» وویل : په دی وروستیو وختو کی د کابل ښاروالی له خوا یو لړ ساختمانی کارونه سرته رسیدلی چی له هغی جملی نه د سرکونو ترمیم او داغګیری، د ترافیکی جزیرو او ګلدانونو جوړول، د آریانا د څلور لاری د چوک جوړول د کابل د ژوبڼ بیا جوړول او هغه ویالی او کانالونه چی څو کاله نه وه پاک شوی اوس یې د پاکولو کار جریان لری.

د یادونی وړ ده چی کابل ښاروالی د ساختمانی چارو تر څنګ د تنظیف او سرسبزی چاری هم په غاړه لری او د نوموړو چارو د لا ښه سمون لپاره موځه موده وړاندی ۱۲ عرادی کثافت وړونکی موټر له بهر نه را وارد کړی او اوس د تنظیف او سرسبزی چاری په ډېر ښه ډول پر مخ روانی دی.

باید زیاته کړم چی د کابل ښاروالی له بهرنیو نړیوالو موسسو سره هم یو لړ قراردادونه لاسلیک کړی چی د هغو له مخی به د کابل ښار د تنظیف او سرسبزی په برخه کی لازم اقدامات وشي.

۵ شرح منظومهٔ عروج و نزول اسلام

پوهیالی لیلما "یما"

دیدگاه هاي اندیشه ورزان غرب در بارهٔ تاریخ علم، معارف، تمدن و فرهنگ اسلامي

وقتي از تاریخ اسلام صحبت به عمل مي آید، هدف بیان وضعیت نظامي و سیاسي صرف نیست، زیرا اسلام کاملترین ادیان است به همین لحاظ به ابعاد مختلف زنده گي چون بعد فرهنگي، اجتماعي، اقتصادي، علم و معارف توجه خاصي مبذول میدارد.

از شخص پیامبر بزرگوارم اسلام گرفته تا خلفاي راشدین و سایر مبارزان صدر اسلام به هر جایي که قدم گذاشته اند، هر سرزمیني را که فتح نموده اند در پهلوي بدست گرفتن زمام نظامي و سیاسي کشور مفتوحه به بزر تخم هاي علم، معارف و تمدن و فرهنگ اسلامي پرداخته اند و ابعاد مختف زنده گي مردم را تکامل داده اند.

چنانچه در شماره هاي گذشته درشرح منظومه عروج و نزول اسلام از عملکرد هایي حضرت پیامبر اسلام، خلفاي راشدین و دوره هاي بعدي آن در ارتباط به این موضوع به صورت مستند ذکر به عمل آمد به تعقیب آن در شماره حاضر شرح آنچه مي آید که شاعر شهیر مـا مرحـوم ابراهیم خلیل از بند (۱۹-٤٤) از علم، معارف، فرهنگ و تمدن اسلامي سخن زده و نظریه، علما و دانشمندان غرب را در آن باره بیان نموده است بیان این نظریات نشان میدهد که اسلام تا چه حد از عظمت و شکوه برخوردار است که حتي کساني که پیرو آن هم نیستند به بزرگي و عظمت آن اعتراف میکنند.

قابل تذکر است که بعد از این چون هر بند موضوع مشخصي را بیان مینماید بناءً براي هر بند عناوین کوچك در نظر گرفته شده است.

فقه و قانون

بند نزدهم :

گـر به تعلیمات قرآني بدقت بنگري
با تفکر سَر به سر خواني و سطحي نگذري
حق ذوالارحام را یك یك در و علم آوري
در رموز عدل و انصافش یقین پي مـــــــــــبري

بعد از آن در صدق او دانم که با چندین زبان
میکني تصدیق چون (گوستاولوبون) بیگمان

شرح : شاعر دَر این بند اشاره مینماید که اگر انسان به تعلیماتي که قرآن کریم میدهد با دقت بنگرد و همه، آن را با تفکر بخواند و از آن سطحي نگذرد حقوق خانواده و اجتماع را، همه از آن در مییابد و به رمز عدل و انصاف اسلام پي میبرد که براي هر کس حق و حقوقي قایل است. اسلام به وضاحت بیان میدارد به همان اندازه که خانواده و قوم که با انسان پیوند خوني دارد بالاي ما حقي دارد، اجتماع نیز بالاي ما حقوقي دارد که باید به صورت جدي در نظرگرفته شود. چه حقوق خانواده بدان معني نیست که انسان صرف به خانواده خویش و یا قوم و محیط و منطقه و هم زبان خویش توجه نماید و افراد و اشخاصي دیگر را که با ایشان پیوند اجتماعي و نوعي دارد از نظر دور بدارد و از آنها سطحي گذر کند.

انسان بعد از مطالعه، دقیق اینهمه حقایق با صدق تمام بار بار بر حقانیت اسلام و قرآن اعتراف میکند، همانطوري که گوستاولوبون عالم معروف فرانسوي در عظمت و کمال قرآن عظیم الشان به تکرار نوشته است وي محقق بزرگي است در عرصه هاي طب، اجتماعیات، و طبعیات که تولدش در سال ۱۸٤۱ م و وفاتش در سنه ۱۹۳۱ م اتفاق افتاده است.

اقتصاد در اسلام

بند بیستم :

امر جمع مسلمین بر اخوت و بر اتحاد
حکم تاکید زکوة و اعتدال و اقتصاد
همچنین بر هر یك آیت گر کني دقت زیاد
گر بخواني ورسي بر رمز آن اي خوش نهاد
چون (الیون روش)و(چو اگبن)و(تیلر)و(چون اداروین)
یا برنگ(کار لایل) میکني تصدي این

شرح : اسلام تمامي مسلمانان را بر اخوت و برادري و اتحاد و اتفاق و دادن زکوة و اختیار روش معتدل در کردار و رفتار و اقتصاد و جلوگیري از امساك و اسراف امر میفرماید. تولید، توزیع و مصرف سه عنصر اصلي و اساسي در اقتصاد است در اسلام اقتصاد از مصرف شروع میشود بدین معني که اسلام امر مینماید که مسلمانان باید مصرف خویش را تحت کنترول در آورند و از مصارف اضافي که اسراف را نشان میدهد جلوگیري به عمل آورند و در همه بخش ها اعتدال راد رنظر بگیرند.

اگر انسان به هر آیت قرآنکریم با دقت زیاد بنگرد و آن را خالصانه تلاوت کند به کشف این اسرار و رموز نایل مي آید و مانند (لیون روش) عالم مشهور فرانسوي، (اگبن) مورخ معروف انگلیسي و نویسنده کتاب تاریخ انقراض امپراتوري روم قدیم، (تیلر)عالم معروف غربي که تمام تمدن دنیا را مربوط ارشادات قرآني میداند، (داروین) فیلسوف و طبیعدان انگلیسي و (کار لایل) تاریخ نویس بلند آوازه سکاتلندي که مولف کتاب (قهرمانان و مسالك ایشان) میباشد که همه به بزرگي و عظمت قرآنکریم و اسلام اعتراف کرده اند و در کمال قرانکریم به تکرار نوشته اند و تمام تمدن غربي را مربوط به ارشادات قرآني میدانند.

فلسفهء اسلامي

بند بیست و یکم :

آنچه در یونان و روم از فلسفه شد دستیاب
مسلمین هر سُو رسانیدند همچو آفتاب
کاندرین ره شد برون تصنیف ایشان از حساب
یافت گیتي از کمال همت شان آب و تاب
چون امـام دین(غزالي) ودگر چون (ابوالعلا)
(بوعلي) و (ابن رشد) و غیره اهل عمل ما

شرح : علما و دانشمندان فیلسوفان اسلامي مانند امام محمد غزالي، ابوالعلاي معري، ابو علي سینا،ابن رشد و غیره کساني بودند که نخست به ترجمه بعداً به شرح و سپس به تحقیق اثار فلسفي یونان و روم پرداختند و در این زمینه کتب بیشماري تصنیف نمودند و به هر گوشه و کنار جهان آن را پخش و نشر کردند و باعث ترقي و پیشرفت جهان شدند بعداً یك تعداد علما و دانشمنداني از گونه، امام محمد غزالي «رح» دست به تفکر مستقلانه زده و بر اساس تفکرات قرآني سیستم فکري اسلامي ا طرح ریزي کردند.

شایان یاد آوریست که در فلسفه اسلامي اصل واساس همه چیز ذات حق است و سایر کاینات و موجودات در ارتباط به ذات حق مطرح میگردد.

منطق تجربي

بند بیست و دوم :

بوده اند اینها همه از علم وحکمت با خبر
دیده اند آثار یونان با مـــــعـــــــــــاني نظر
گرچه این معني به (باکن) شد به عالم مشتهر
لیك بیني سوي تصنیفات (هومبلد) اگر
میکند تایید کاین بوده است کار مسلمین
وزهمین زحمات شان بهره ور روي زمین

شرح : علما و دانشمندان اسلامي که همه، ایشان از اساسات و قوانین علم، دانش و فلسفه آگاهي کامل داشتند آثار علمي و فلسفي یونان و روم قدیم را با دقت و غور فراوان از نظر گذراندند و به شرح و ترجمه و تفسیر ان پرداختند. گرچه پخش و نشر علوم و منطق تجربي را عده یي مربوط به بیکن که از جمله امرا و نویسندگان انگلیسي است میدانند اما اگر به آثار عالم الماني هومبلد که راجع به عالم اسلام کتابي نوشته است دیده شود، این موضوع به وضاحت بیان شده و تایید گردیده است که پخش و نشر علم و منطق و فلسفه در جهان، توسط علما و دانشمندان اسلامي صورت پذیرفته است و نتیجه، زحمات مسلمین است. باید متذکر شد که ظاهراً علم و تمدن معاصر که بر پایه، منطق تجربي استوار است براي اولین بار در غرب توسط بیکن و دکارت ترویج گردید اما به قول هومبلد و برخي علماي دیگر منطق تجربي براي اولین بار توسط عالم اسلامي ابو ریحان البیروني مطرح گردید و اساسات کار وي هم بر پایه، همین منطق استوار بود و در کار هاي علمي اش از همین روش استفاده میکرد و بعداً بیکن و دکارت با مطالعه، آثار بیروني و پیروانش از جمله ابن خلدون در زمینه، جامعه شناسي، منطق تجربي را اخذ نموده و به صورت منظم و منسجم براي جامعه اروپایي تقدیم کردند.

ادامه دارد

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا　　ژباړن : بشار　　۱۴

د اصحابو د ژوند پلوشي

په دغو شیبو کی ما خپل ځان توټه توټه او بواځی لیده ! میره می د خپل دین او ځان په بچولو د مدینی لارو نیوله، او ژوبل زوی می بنو عبدالاسد د خپلو ځانو سره ویوو، او هرڅه چی زه ومه خپل قوم (بنو مخزوم) د ځان سره ویورمه. نو په یوه ساعت کی زما او زما د میره او زما د زوی په منځکی بیلتون وشو. بیا له همدی ورځی څخه هره ورځ به -ابطح- ته وتلمه، او په هغه ځای کی به چی په کی دغه غمجنه پیښه شوی وه کښیناستمه، او هغه شیبی به می چی په کی زما او زما د زوی او میره بیلتون شوی یادی کړی، او تر هغه پوری به می وژړل چی د شپی تیاری به را باندی خیمه ووهله. په دغه حال بو یا نژدی یو کال تیر شو. بیا چی زما د تره د زامنو یو تن را باندی پیښ شو. او زما حالت یی ولید نو پر ما باندی د هغه زړه وسوځید، او زما قوم ته یی وویل : ایا دغه مسکینه چی د هغه او د هغی د میره او زوی تر منځه مو بیلتون راوستی نه پریږدی ؟ او دغه شخص تر هغه پوری د هغو لپاره د زړه سوی او نرمی خبری کولی څو هغو ما ته وویل : که غواړی نو خپل میره ته ورشه .

هغی وویل : زه څرنګه خپل میره ته چی هغه په مدینه کی دی ورشم، او خپل زوی د زړه توټه په مکه کی د بنو عبدالاسد سره پریږدم ؟ څنګه کیدای شی چی زما د زړه سوخت غلی او زما د سترګو اوښکی وچی شی، او زه د هجرت په سرای کی او ماشوم زوی می په مکه کی وی، او له حاله یی هیڅ خبره ونه اوسمه ؟! ځنو خلکو زما غمجن او ویرجن حالت ته وکتل، او په ما باندی زړه سواند شول، او زما په باب یی د بنو عبدالاسد سره خبری اتری وکړلی، او د هغو څخه یی د زړه سوی غوښتنه وکړه نو هماغه شو چی هغو ما ته خپل زوی سلمه بیرته راکړ .

ام سلمه وویل : ما نه غوښتل چی په مکه کی ځنډ وکړم بلکی ددی انتظار می وبسته څو یو تن پیدا شی او بیا له هغه سره سفر وکړم ځکه زه په دی ویره کی ومه نه چی څه چی په ګومان نه راځی را پیښ شی، او زما او د میره په منځکی می مانع شی له همدی امله ما خپل اوښ بسمبال کړ، او خپل زوی می په غیږه کی واخیست او مخ په مدینه د خپل میره په نیت راووتمه، او په دغه وخت کی له موږ سره د خدای له مخلوق څخه هیڅوک نه و څنګه چی تنعیم ته په رسیدو کی شومه د عثمان بن طلحه سره مخامخه شومه، او هغه راته وویل : ای د زاد بن الواکب لوری ! چیرته ځی ؟ ما وویل : زه په مدینی کی خپل میره ته ورځمه . هغه وویل : آیا څوک درسره شته ؟ ما وویل : په خدای سوګند، یی له الله او دغه ماشوم څخه بل څوک نشته.

هغه وویل : په خدای سوګند زه هیڅکله ستا پرینښودونکی نه یم څو چی ته مدینی ته ونه رسیږی . بیا یی زما د اوښ تسمار په لاس کی ونیو، او له ما سره په لاره روان شو. او په خدای سوګند، ما هیڅکله په عربو کی د هغه په شان د یوه معزز او شریف شخص د لاری ملګرتیا نه وه کړی. کله چی به هغه د دمی یو ځای ته ورسید نو زما اوښ به یی چوکړ، او له ما څخه به وروسته شو، او بیا چی به زه له اوښه ښکته شومه هغه به ورڅخه کښته ښکته کړه او بیا به یی اوښ په ونی پوری وتاړه او هغه به د یوی بلی ونی لاندی پریوت، بیا چی به د تګ وخت شو نو زما اوښ به یی سمبال کړ، او راته چوپه یی کړ، او هغه به ورڅخه وروسته شو او ویه یی ویل : سپره شه .

بیا چی به زه سپره شوم، هغه به راغی، او د اوښ تسمار به یی ونیو او روان به شو .

هغه به هره ورځ داسی کول څو چی مدینی ته ورسیدو کله چی هغه په قبا کی د بنو عمرو بن عوف قریی ته وکتل نو ویی ویل : ستا میره په دغه قریه کی دی او د خدای په نوم ورننوځه او بیا هغه مکی ته ستون شو .

د اوږده بیلتون څخه وروسته تیت او پرک سره یو ځای شول او ام سلمه د میره په لیدلو خوشحاله شوه ، او ابو سلمه د خپلی ښځی او زوی په لیدلو خوښ شو . .

بیا دېری پیښی د سترګو د رپ په شان تیری شوی :

دی چی ابو سلمه ورته حاضریږی، او بیا ورڅخه د مسلمانانو سره ستنیږی ، او لویه کامیابی ور په برخه کیږی.

دا احد دی چی د بدر څخه وروسته د هغه په جنګ کی برخه اخلی او په کی خپله پوره میړانه ښیی مګر هغه ور څخه ژوبل ستنیږی ، بیا هغه د خپل پرهار علاج کوی تر هغه چی پر هار یی روغ شی مګر پرهار چی په ظاهری توګه روغ او د ننه لا جوړ نه و د یو څه مودی وروسته بیا تازه کیږی او ابو سلمه په بستر کی بیمار پریوځی . په دغه وخت کی چی ابو سلمه د خپل پرهار علاج کاوه نو خپلی ښځی ته یی وویل : ای ام سلمی ما د رسول الله «ص» څخه اوریدلی چی ... یل یی : یعنی هر چاته چی مصیبت رسیږی، او هغه په دغه وخت کی « انا لله و انا الیه ... » وایی او هم وایی چی ای خدایه ! زه له تاسی څخه د خپل مصیبت ثواب غواړم. ای خدایه! له هغه څخه ښه را په برخه کړه نو خدای به د هغه غوښتنه تر سره کړی.

ابو سلمه تر څو ورځو پوری د ناروغی او بیماری په بستر کی پروت و بیا یوه ورځ رسول الله «ص» د هغه د پوښتنی لپاره راغی رسول الله «ص» د هغه د کتلو څخه لا خلاص شوی نه و او نه د هغه د دروازی څخه وتلی و چی د هغه سترګی د ژوند څخه پټی شوی او رسول الله «ص» پخپلو مبارکو لاسونو د خپل ملګری سترګی پټی کړی او بیا یی خپل مخ اسمان ته کړ، او وی ویل : ای خدایه ابو سلمه ته بخښنه وکړه ، په مقربینو کی یی درجه لوړه کړه او د هغه د وروسته پاتی کسانو لپاره د هغه پر ځای عوض ورکړه ای د عالمیانو پالونکیه! موږ او هغه ته بخښنه وکړه ، د هغه قبرارت کړه او ورته یی روښانه کړه .

مګر ام سلمه د ابو سلمه روایت چی له رسول الله «ص» څخه یی کړی و را په زړه کړ او ویی ویل : ای خدایه! له تا څخه د خپل مصیبت اجر غواړم، مګر دا یی زړه نه غوښتل چی ووایی : ای خدایه په دغه مصیبت کی خورا ښه عوض را په برخه کړه . ځکه هغه به له یو بل څخه پوښتنه کوله : څوک به وی چی هغه له ابو سلمه څخه ښه وی ؟! مګر ډیل یی ونه کړ چی دعایی تر سره کړی .

پاتي لري

یوه عجیبه تداوي

هغه څو تنه چی پخوا په وژونکو عقلي اختلالاتو اخته شوی و د هغو سویانو له شیدو څخه په استفادی سره چی یو ډول انساني ژن ورپیچکاری شوی و علاج او درملنه یی په بریالیتوب سره تر سره شوه .

هالندي ډاکترانو دوه اووني مخکي اعلام وکړ چی دغه ماشومان په یو ډول چټکی پر مخ تلونکی ناروغی اخته و چی د تغذیوی او تنفسی اختلالاتو سبب کیږی، دغه یی ساری ناروغی په معمولی ډول خپل قربانیان د ژوندانه په لومړی کال کی وژنی خو د درملنی له دغی نوی لاری چاری څخه په استفادی سره د ماشومانو روغتیایی حالت ښه والی پیدا کوی.

ستور پوهانو د ژوپیتر په مدار کی یوه بله سپوږمی کشف کړه

ستور پوهان څرګندوی چی د ژوپیتر په مدار کی یی یوه بله میاشت کشف کړی ده .

د لاس انجلس تایمز ورځپاڼی د جمادی الاول په لومړی نیټه ولیکل : که چیری د دغی میاشتی وجود چی قطر یی څلور اعشاریه پنځه کیلو متره دی تایید شی دا به ډیره کوچنی میاشت وی چی تر اوسه پوری د یوی ستوری سیاری په مدار کی کشف شوی ده .

ویل کیږی چی په اوس وخت کی لمر ته د مشتری د ستوری د نژدیوالی له امله ددغی میاشتی په باب د زیاتی څیړنی امکان راتلونکو میاشتو ته ځنډول شوی دی.

د ژوپیتر په مدار کی د شپاړسو میاشتو له جملی څخه نیمایی یی له څلور سوه او یا کیلو مترو څخه لږ قطر لری د مریخ ستوری په اوس وخت کی د لس اعشاریه پنځه ویشتو کیلو مترو قطر په لرلو سره ډیره کوچنی میاشت ده .

بریتانوی څیړونکو د موټرونو د شیشو لپاره نوی پلاستیک جوړ کړی

انګلستانی څیړونکو یو ډول نوی پلاستیک جوړ کړی چی کولای شو له هغه نه د موټرو د شیشو پر ځای کار واخلو او په دی توګه د موټرو خوندیتوب زیات کړو . دغه پلاستیک د ګوزار په وړاندی له یوه ډیر سپک او کلک فلزی کاربونات څخه جوړ شوی چی د بیلا بیلو حوی حالاتو په وړاندی په کلک پلاستیکی پوښ سره پوښل شوی دی. پوهان عقیده لری چی له دغه ډول پلاستیک څخه استفاده کول د یوی ډیری کلکی او شفافی پلاستیکی مادی د جوړیدو سبب کیږی چی له شیشی نه ډیر سپک او جوړول یی هم له شیشی نه ډیر اسانه دی اوس پر سیره پر دی د ترافیکی پیښو په وخت کی د موټر سپرلی هم خوندی ساتی.

د لاس ورکولو څرنګوالي د افرادو د شخصیت څرگندويي کوي

امریکایی څیړونکو ادعا کړیده چی یو بل ته د افرادو د لاس ورکولو څرنګوالی د هغوی فردی خصوصیات بیانوی. دغو څیړونکو د زرګونو تنو د لاس ورکولو څرنګوالی څیړلی او دا نتیجه یی تر لاسه کړیده چی د لاس ورکولو څرنګوالی کیدای شی د افرادو د شخصیت څرګندوی وی. د څیړونکو د څرګندونو له مخی هغه کسان چی کلک لاسونه ورکوی پهر پال ، په نفس باندی د اعتماد خاوندان او د خپلو عواطفو څرګندونکی دی. او هغه کسان چی سست لاسونه ورکوی زیات کمروه او داخلی پال دی او کله نا کله نیایی د یو لنیز اضطراب په عارضه هم اخته شی. دغه راز د لاس حرارت او وچوالی د شخصیت څرګندوی دی هغه کسان چی کلک لاسونه ورکوی خو د سړو او مرطوبو لاسونو خاوندان دی خوشخویه او خوشحاله خلک دی.

څینی نباتات خبری کوی

د جاپان د کیوتو د پوهنتون ساینس پوهان وایی : دوی یو حیرانوونکی کشف کړی، او هغه دا چی څینی نباتات خبری کوی. دغو څیړنکو څو ورځی مخکی د ساینس په مجلی کی یو ریوټ خپور کړی او وایی چی : دلوبیا یو ډول بوټی دی چی کله حشرات ورشی او غواړی چی وبی خوری نو یو ډول کیمیاوی مواد خپروی چی بیا د حشراتو اشتها نه ورته کیږی ډوی په خپل ریوټ کی وایی : کله چی حشرات نومورې نبات ته ورنژدی شی نو هغه خپلو ګاونډیو نباتاتو ته اطلاع ورکوی او هغوی هم دی ته ورته کیمیاوي مواد خپروی او په دی وسیله د خپل ځان دفاع کوی د کیوتو د پوهنتون ساینس پوهان وایی : دوی هیله لری چی له دغو اطلاعاتو څخه په داسی کار واخلی چی نور نباتات د حشراتو له ګټو څخه خوندی وساتی.

اسلامي امارت د جګړې پلوي ...

کی د جګړی دوام له دی پرته چی زمــوږ د خلکو مـصـیبـتـونه او مـشکلات لا پـسی زیات کړی کومه پله ګټه نلری.

د المـان د سـولی کلی ته د افـغـانی مـعـیوبو او معلولو ماشـومـانو د سپرلی الوتکی ته یی د الوتنی د اجازی د ورکولو په اړوند چی د ملګرو ملتو د سازمان د بنه نیت څرګندوی ده قدردانی وکړه او وی ویل د ملګرو ملتـو سـازمـان باید د یوه سـتـر نړیوال مرکز په توګه له هر راز توپیر پرته د ټولو هیـوادونو او په تیـره بیـا د نړی د مـسـتـضـعفو هیوادونو په وړاندی خپل رول ادا کړی.

ده د هغـو افـغـانی مـهـاجرینو په باب چی باید افـغـانسـتـان ته راسـتـانه شی د ایران د پارلـمـان د یو شـمـیر غړو بیړنیو پیـشـنهـادونو ته په اشـاری مـره اندیښنه څرګنده کـړه او وی ویل د ایران حکومت باید په دغـه هیواد کی د میـشـتو افغـانی مهاجرینو د ستونزو او مشکلاتو له په پام کی نیـولو سره په خپله خوښه د هغوی د ستنیدو په باب تصمیم ونیسی.

مـحـتـرم مـتـوکل زیاته کـړه په افـغـانسـتـان کی د روانو قـضـیـو په اړوند د ملګرو ملتـو د سـازمـان د سـرمنشی د ځانګړی اسـتـازی ښـاغلی فـرانسـیس ویندرل څرګندونی په خـپـله د هغـه وهمی اندیښنی دی مــوږ تل نه یوازی د ملګرو ملتو د سازمان د سوله ییزو هڅو هر کلی کـوو بلکی تیـار یو هر اړخـیـزه طرحه او سوله ییزه طرحه او پروګرام چی د اسلامی قـوانینو او زمـوږ د ټولنی د لوړو ګـټـو په خلاف نه وی ومنو.

د بهرنیـو چارو محتـرم وزیر د منځنی اسیا د نا ارامیو په اړوند چی ددغو هیوادونو د یو شمیر واکمنانو د غلطو پالیسیو زیږنده دی اندیښنه څرګنده کړه او په دغـو نا ارامیـو کی یی د افغانانو هر راز رول له حقیقت څخه لری وباله.

محتـرم متـوکل زموږ په هیواد او سیمه کی د روانو قـضـیــو په وړاندی د اسـلامی امـارت د اصـولی دریځ او تګ لاری په بیـا نولو او څرګندولو سره له ګـاوندیو هیـوادونو سره د ښه ګاوندیتوب په اصل باندی ټینګار وکـــړ او وی ویل : د نورو په چارو کی د نه لاس وهنی سـیــاسـت د پخـوا په شــان د اســلامی امــارت د ملی او نړیوالو دندو او مکلفـیتـونو په سر کی ځای لری او موږ هم له ګـاوندیو هیـوادونو څخـه هیله لرو چی ورته عمل وکړی .

ده وویل مــوږ په هر راز شــرایطو کی د خــپلو خلکو د ارادی او د خــپل اســلامی او افغانی سیاست پر بنسټ حرکت کوو هر هغه هیواد چی زموږ پر خلاف د اسلامی امارت مخالفین وسله وال او سمبالوی او زموږ پر خلاف لاس وهونکی سیاست غوره کوی هغه مردود بولو .

مـوږ هیـڅکله د جګړی پلویان نه یو او مخالفین باید زموږ د ټولنی او خلکو د لوړو ګټو او ملی مصالحو په پام کی نیولو سره له جګړی څخه لاس واخلی.

په پای کی د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکـیل احمد متوکل د کـورنیـو او بهـرنیـو خبـریالانو پوښـتنو ته قناعت بخـښـونکی ځوابونه ورکړل.

پېښې او پر مختـــــګونه

د مېر سټېشن به د تفرېحي سفرونو لپاره په فضا کي وساتل شي

نړیوالو پانګوالو اعلام کړی چی په پام کی لری د میر فضایی ستیشن د راتلونکو تفریحی سفرونو لپاره په فضا کی وساتی.

بو هالندي شرکت وایی چی دوه راتلونکی ماموریتونه په میر کی تر سره کوی چی فضایی ستیشن په خپل مدار کی وساتی. روسیی غوښتل چی د میر ستیشن سږکال ځمکی ته راښکته کړی ځکه په دی بریالی نه وه چی څو ملیاردی لګښتونه ورکړی د میر ستیشن ته یو شمیر سیلانیانو نومونه ولیکل لومړنی سیلانی او تورست هغه سوداګر دی چی پخوا د توغندی جوړولو یو ماهر و .

د نابینایانو د علاج نوی طریقه

د طب عـالمـانو د نابینایانو د علاج نوی طریقه پیدا کړی د نابینایانو د عـلاج له پاره چی کـومـه نوی طریقه راوتلی هغـه دا ده چی د نابینا یا ړندی سترګی نه حجری راخیستل کیږی او په لابراتوار کی تکثیر کیږی او بیرته په ړندی سترګی کی کینبودل کیږی.

د سترګو د جراحانو دوو ډلویو د امریکا په کلیفورنیا او بلی په تایوان کی دغه کار کړی او د نابینایانو سترګو له دی عملیاتو نه وروسته دید پیدا کړیدی.

د عـالمـانو دغو دواړو ډلو د سترګو له تورو ، نه حجری راخیستی او په لابراتوار کی یی تکثیر کړی دی دا حجری په څو هفتو کی لویی شوی او د سـترګو جراحـانو هغـه په ټاکلی اندازه قطعـه کړی او په نابینا سترګو کی یی پیوند کړی.

ـته ددی ناروغـانو قـرینی دومـره زیانمنی شـوی وی چی په معمولو عملیاتو یی چاره نه کیده ددی عملیاتو په نتیجه کی د شلو ناروغانو له جملی نه پنځلس بینا شویدی ډیر خلک شپیته کلنی ته له رسیدو مخکی د ارثی خاصو ناروغیو له لاسه ړندیږی چی شیمر یی په ټوله نړی کی نیم ملیون خلکو ته رسیږی.

دغور او کابل د ولایتونو

د غـورولایت له مـرکـز څخـه د باخـتـر اطلاعاتی آژانس خبریال خبر راکړ د مخابراتو وزارت د تخنیکی انجنیرانو او د غور ولایت د مخـابراتو ریاست د انجنیـرانو او کـارګـرانو د هڅو او هاند له امله له کـابل او د هیـواد له نورو ولایتـونو سره د غـورولایت د مرکز چغچران مخـابروی ارتبـاط تامـین شـو او پرون د یوی غـــونډی په ترڅ کی د مـــخــــابراتو ریاست مخابروی دستګاه د غور ولایت د مرستیال محتـرم مولوی غلام محـمد محـمدی لخوا پداسی حال کی چی ددغـه ولایت د مخـابراتو رئیس محترم حسن خادم او د بیلا بیلو امارتی ادارو یو شـمیر چارواکی او مامورین حاضر و په رسمی ډول پرانستل شوه او د استـفـادی ور وګرځیده .

یوه قوي بم ...

تراوســه پوری ددغی چاودنی له امله د مـړو او ټپیـانو د شـمـیـر په باب رپوټ ندی ورکړ شوی.

صنعت فلم سازي امريكا ...

او در حالی صنعت فلم سازی آنکشور را مورد انتقاد شدید قرار داد که بل کلنتن رئیس جمهور آنکشور در یک ګردهمایی فلم سازان آنکشور شرکت کرده است.

حفظ آبدات ....

کوتل که قدامت تاریخي دو هزار ساله دارد باز دید بعمل آورده غرض حفظ و نګهداري آبدات تاریخي که سرمایه ملي کشور به شمار مي رود به مسوولین مربوط هدایات لازم داد .

وي طي صحبتي ګفت آبده تاریخي سرخ کوتل که قدامت تاریخي دو هزار ساله داشته و از جـمله آبده هاي تاریخي کـشـور بحـســاب مـیـرود کـه بدبخـتـانه حکومت هاي ګذشته از این آبدات حفاظت نه نمود و امارت اسلامي در حفظ و نګهداري آبدات فـرهنـــــګي تلاشـهــاي فراواني بخرج داد .

یو تن غل ...

ونیـول شـو . امنیـتی مـوظفـینو د منکراتو د مخنیوی په خاطر د خپلو پراخو هڅو او هاند په لړ کی پرون یو تن غل چی د بریښنا اته امارتی میـترونه یی غـلا کړی و لاس په لاس ونیـو او د قانون منګولو ته وسپارل شو .

یوه ډله تښتوونکي ...

د پکتیـا ولایت د استـخباراتو د موظفینو د هڅو او هاند له امله د تښتـونکو یو دولس کسـیزه ډله په دی وروستیـو کی ددغه ولایت په مربوطاتو کی نیـول شوی ده. د پکتیا ولایت د استـخباراتو یوی مسـئولی سرچینی وویل دغـه ډله د پکتـیـا ولایت د اسـتـخـبـاراتو د منسـوبینو د بریالیـو عـملیاتو په نتـیجه کی نیـول شـوی او شـواهد مـوجـود دی چی دغـو تښتـوونکو زمـوږ د یو تن هیـواد وال د خـوشی کـولو په بدل کی چی ددغی ډلی له خوا تښتول شوی وو شلو ملیونو افغانیو نقدو پیسـو غوښتنه کړی وه . ددغی ډلی قضیـه تر تحقیق لاندی نیول شویده .

[illegible] ...

شفاخانه درګذشت تا هنوز پنجاه نفر دیګر مجروحین این حادثه در شفاخانه هاي روسیـه تحت تداوي قرار دارند. علت و انګیزه این انفجار که بروز سه شنبه ګذشته به وقوع پیوست تا هنوز معلوم و واضح نشده است.

منقریب جریان برق ...

این مطلب را محترم نجیب الله مسؤول موسسه خیریه اطفال جنګ زده به خبرنګار ما اظهار داشته افزود : جکشن برق فامیلي هاي قرغه که قبلاً ۸۰ فیصد تخریب ګردیده بود اخیراً از اثر سعي و اهتمام این موسسه تمامي پرزه جات و سامان الات کمبود آن به استثناي ترانسفارمر دو باره احیا و مورد استفاده قرار ګرفته است.

وي اضافه داشت : با تأمین ارتباط لین پانزده کیلو ولت به لین جکشن برق مـزبور حـدود ۴۰۰ خانواده از نعمت تنویر برق در آن ساحه مستفید میګردد؛ هکذا با تأمین شدن جریان برق در جکشن متذکره سیستم آبرساني فامیلي هاي قرغه و منازل همجوار آن نیز دو باره فعال و مورد استفاده قرار میګیرد. کار پروژه مذکور به شدت ادامه داشته و قرار است در روز هاي نزدیك موفقانه تکمیل ګردد.

مهربان

۹۳ طفل معیوب ...

صلح آلمان از تعزیرات شوراي امنیت سازمان ملل متحد کسب ګردیده است.

ملا حمید الله رئیس عمومي د آریانا افغان هوایي شرکت دیروز ګفت :

طیاره چارتر د آریانا افغاني هوایي شرکت قرار است دراین نزدیکي ها نودو سه طفل معیوب افغان را به دهکده صلح آلمان منتقل و از آنطرف هشتاد و پنج طفل تداوي شده و یك تعداد ادویه و سامان آلات طبي اهدا شده دهکده صلح آلمان به جمعیت افغاني سره میاشت را بکابل منتقل نماید.

طي مراسم خاصي ...

تمنیات محترم رفیق تارر رئیس جمهور پاکستان را به محترم رئیس الوزراء تقدیم داشته و اطمینان داد که در راه تحکیم روابط هر دو کشور مساعي بیشتر به خرج خواهد داد .

سپس محترم رئس الوزراء ضمن یاد آوري از روابط دوستانه میان دو کشور همسایه موفقیت سفیر جدید پاکستان را در راه تحکیم هر چه بیشتر روابط دو کشور آرزو نمود. در این مراسم محترم ملا عبدالرحمن زاهد معین وزارت امور خارجه ، محترم ملا محمد حسن مستسعد معاون اداره امور ، محترم مولوي عبدالسلام مسلم رئیس روابط بین المللي و دفترمطبوعاتي ریاست الوزراء ، محترم عبدالغفور افغاني رئیس تشریفات وزارت امور خارجه و عده از مسؤولین امارت اسلامي و از جانب جمهوري اسلامي پاکستان محترم فاروق افضل اتشه نظامي ، محترم عامر آفتاب قریش سکرتر، محترم احسان الله قنسل و سخي الله ترین مستشار سفارت پاکستان در کابل حضور داشتند.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

در ربع اول سال جاري براي ۱۵۰ فاميل ...

سره میاشت آنولایت زده و با رئیس سره میاشت محترم ملا نور احمد هجران مصاحبه را انجام داده است که توجه شما عزیز دوستان را به خوانش آن معطوف میداریم.

در آغاز محترم ملا نور احمد هجران چنین ګفتند : ریاست سره میاشت ولایت هرات بمشابه کانون حمایت از حقوق مستضعفان وظایف بشری خود را در قبال مساعدت به انسانهاي نیازمند، به پیش میبرد.

موصوف اضافه کرد : در پهلوي ریاست سره میاشت هرات، نمایندګي هاي آن در ولایات فراه، نیمروز، بادغیس و غور نیز فعالیت داشته و با بسیج تمام امکانات ، در خدمت اهالي کم بضاعت و بي بضاعت قرار دارد .

وي میافزاید : این ریاست داراي بخش هاي خدمات صحي، کمك هاي اولیه، مبارزه علیه حوادث غیر مترقبه، بخش آموزش حرفوي، مرستون، فرهنګ و نشرات بوده و تمام خدمات و کمك هاي آن بطور رایګان و بلاعوض صورت میګیرد.

محترم رئیس سره میاشت هرات افزود : در ربع اول سالجاري یکصدو پنجاه فامیل مستحق از طرف این ریاست با اعطاي ۵۰ کیلو ګرام ګندم، ۹ کیلو ګرام روغن، ۲۰ کیلو ګرام برنج و ۱۰ کیلو ګرام لوبیا مساعدت شده و همچنان براي ۳۳ فامیل مهاجر ولایت غور که از اثر خشکسالي بولایت هرات آمده اند، براي هر فامیل تا مدت سه ماه مقدار ۷۵ کیلو ګرام ګندم، ۱۳.۵ کیلو ګرام روغن، ۳۰ کیلو ګرام برنج، ٤ تخته کمپل، یك دیګ بخار و مقدار ۱۵ کیلو ګرام دال نخود از بخش مساعدت هاي سره میاشت کمك صورت ګرفته است باید ګفت که این هموطنان مهاجر به همکاري مقام محترم ولایت هرات و ریاست شهدا و مهاجرین به منطقه مناسبي انتقال داده شده اند . قابل یاد اوریست که در طي همین مدت مبلغ بیست و پنج ملیون افغاني به اساس احکام مقام محترم ولایت هرات، به نیازمندان و مستحقان توزیع ګردیده است همچنان این جمعیت ماهانه ۵۰ بسته مواد غذایي دفتر صلیب سرخ را شامل مواد خوراکي به فامیل ها و افراد مستحق نواحي هشتګانه ولایت هرات، توزیع مینماید.

مستکبرین جهاني نمیتوانند استقرار ...

افغانستان دیروز در مقر ستره محکمه دایر ګردید.

ابتداء آیات چند از کلام الله مجید قرائت ګردید.

بعداً محترم قاضي القضات و رئیس ستره محکمه روي موضوعات سیاسي و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند که در بخشي ازسخنان خویش فرمودند : طاغوتګران جهاني افغانستان آزاد، متحد و مستحکم و استقرار نظام اسلامي را در آن تحمل کرده نمي توانند و به سلسله تبلیغات سوء شان ادامه میدهند . هنګامیکه یك تبلیغ و پروپاګند آنان به ناکامي مواجه میګردد تبلیغ دیګري را روي کار میګیرند و اګر این هم ناکام شود پروپاګند دیګر را آغاز میتمایند. و اګر تبلیغات نو پیدا نشود تبلیغات کهنه را دو باره تکرار میکنند. و همیشه در این سعي و تلاش اند تا سلسله تبلیغات قطع نګردیده و جریان ان ادامه داشته باشد درین مورد باید خود ملت مسلمان ما متوجه شوند و حقایق را درك نمایند.

این تبلیغ کننده ګان دروغین از موضوعات حقوق بشر، مواد مخدر و تروریزم و امثال آن بحیث بهانه کار ګرفته و نمي خواهند که هیچ یك ازین بهانه هاي شان از بین برود. که مثال واضح آن اختیار نمودن خاموشي آنان در مقابل فرمان عالیقدر امیر المومنین که در باره، بکلي منع کاشت مواد مخدر صادر ګردیده میباشد که نه تنها این اقدام را تحسین نه نمودند بلکه در باره، عدم عملي نمودن فرمان تبلیغ سوء مینمایند باید ملت مسلمان همیشه از مکر و فریب دشمن باخبر بوده باشند.

محترم قاضي القضات در رابطه به محاکم فرمودند : قضات محاکم باید در حدود، قصاص، تعزیر و دیګر موضوعات ، احکام شریعت و مقررات قضایي را بطور دقیق و کامل در نظر ګرفته باشند و چهار قسم تعزیر و تفاوت آن به اعتبار جرایم و اشخاص را نیز کاملاً رعایت نمایند. و اګر کدام مجرم از طرف محکمه به ضرب دره و هم به حبس محکوم شده باشد در صورتیکه مجرم مریض نباشد و هم کدام تکلیف دیګر نداشته باشد باید اولاً ضرب دره بالایش تطبیق و بعداً حبس ګردد.

محترم رئیس ستره محکمه ا.ا.ا علاوه نمودند : رؤسا محاکم، اعضاء ، محررین و سایر پرسونل باید اشخاص فهمیده، صالح، با تقوي و کاملاً پابند شریعت بوده باشند. بعضي از مردم در باره، محررین و کاتبان فکر میکنند که البته آنها مردم عادي بوده و هر کس اهلیت وظیفه محرري را میتواند داشته باشد ولي حقیقت چنین نیست زیرا در مبسوط ذکر شده که محرر و کاتب نایب قاضي میباشد و قاضي بر او اعتماد داشته مي باشد پس محرر باید شخصي باشد که داراي صلاحیت و اهلیت قضا بوده و در پاکي شهرت داشته باشد.

سپس روي پیشنهادات ریاست مالي و اداري و ریاست امور ذاتیه ستره محکمه و روي نظریات کمیسیون حل استهدات و کمیسیون تجدید نظر غور همه جانبه صورت ګرفت. و همچنان در باره، درخواستهاي تبدیلي موضوعات در محاکم لایات ننګرهار، لغمان، میدان وردګ، پکتیا و ولایت غزني و دیګر مواد شامل اجندا بحث و بررسي دقیق بعمل آمد، در بخشهاي مختلف تصاویب صورت ګرفت و به محاکم و مراجع مربوط هدایات لازم صادر ګردید.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press